


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

ایمل « مړوند »
د نشر نیټه : دوم دسمبر ۲۰۱۲ میلادی

# ختیځ ادبي بهیر شل کړه







ختیځ ادبي بهیر د خپل پیل کړي سفر په لړ کې (۲۰) مه اونیزه ناسته د ( ۱۳۹۱) کال د لیندۍ میاشتې په (۱۰) مه نیټه د جلال باد ښار د میودوتیک په انګړې ترسره کړه .


غونډه حمیدالله کامران د قران پاک د مبارکو ایاتونو پرتلاوت پرانیستله. دا اونۍ د ناستې مشري عبدالله هوډ کوله، میلمه یې حامد غورځنګ او د کوربه پرڅوکۍ ورسره انجینر زیارمل سوکال ناست وو .

د دریځ چارې عرفان الله بیدار سره وې، د تیرې ناستې ګزارش ایمل مړوند ولوستلو، او ملګرو خوښ کړ.د ژمنې سره سم نقیب احمد اتل د پښتو ژبې د د پینځه یاګانو په اړه ادبي درس وړاندې کړ، چې ناستو بهیروالو ترېنه ځای ځای پوښتنې کولې او نوموړي ورته ځوابونه ویل.

د پښتو ژبې پینځه یاګانې چې اکثره ځوانان یې په لیکلو کې ستونزه لري. ښاعلي اتل یې په اړه ډېر ښه او په زړه پورې درس د ډېرو ښو بیلګو سره وړاندې کړ.

د دې ترڅنګ نوموړي د ياګانو په اړه لنډ ليکلی نوټ هم په بهيروالو ووېشلو، چې د ياګانو په اړه په کې ښې بېلګې او د کاروني په اړه يې څرګند معلومات ليکل شوي وو.




تر ادبي درس وروسته يوه ازاده مشاعره وشوه، چې په يادو کسانو سربېره په کې دغو ښاغلو هم خپل شعرونه وويل:

زمري عزيزي، هلال عجز، احسان الله افکار، شفيق الله نايل، احمد بختيار ساحل، حميدالله کامران، اکمل ظاهر، ايمل مروند، فهيم رحميزي، محمود خزان، احمد جمال جمال، حضرت الله لمرين، سيد صدق الله صادق، سيد هدايت الله شيدا، ډاکټر بشير احمد پرهر، جمال ثاقب، ذبيح الله صالح، کمال الدين اظهار، حضرت يوسف يوسفزي، صابرشاه صافي، فريدالله ملاتړ، مولاګل صافي او ديدار صافي







تر مشاعرې ورسته د غونډې مشر ميلمه عبدالله هوډ خبرې وکړې. وې ويل ډېره ښه غونډه وشوه او ډېر زيات ملګري بې په کې وليدل. زياته يې کړه ملګرو ډېر ښه شعرونه وويل، خو(( هيله مې داده، چې شاعران ملګري پخپلو شعرونو کې د مثبت پيغام په وړاندې کولو کې ډېر کار وکړي )).

د هوډ په خبره نن سبا هېواد په داسې خالاتو کې دی، چې تر ټولو ډېر بايد شاعران په خپلو شعرونو کې د وطن جوړونې او ټولنې ته د ښو پيغامونو په لېږدولو کار وکړي.







په پای کې وټاکل شوه، چې راتولونکې اونۍ ته  به ختیځ ادبي بهیر د اوستاد  یارمحمد کوچي په ویاړ نمانځغونډه جوړو.
او غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیده

ایمل  « مړوند »

## بلنلیک

ختیځ ادبي بهیر تاسي ته د پښتو ادب او پوهنې د بل مشال استاد یار محمد کوچي په لمانځغونده کې د ګډون بلنه در کوي.

په درنښت
ختیځ ادبي بهیر

نیټه:  ۱۷/۹/۱۳۹۱ (جمعه مبارکه ورځ)
ځای: ننګرهار تولنیز مرکز میدیوتیک




بازګشت به صفحه اصلی  –  www.said-afghani.org

هره  لیکنه  د لیکوال خپل نظر  دی  او خپله  دلیکوال اند  څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی  صلح و تفاهم  سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است